# Ahoj!

# Hello, Welcome to Slovakia



PASHTO






# زه ولې د پولیسو لخوا نیول شوی یم؟

دا ځکه چې تاسو سلواک ته له یوه معتبر سند لکه ویزې/اقامې پرته راغلي واست، تاسو د پولیسو لخوا د څېړنو په موخه د پولیسو مرکز ته وړل شوي واست. ستاسو د لا ښې پېژندنې په موخه، پولیس اړتیا لري ترڅو له تاسو څخه څو ساده پوښتنې وکړي. پوښتنو ته ستاسو ځوابونو او ستاسو شته اسنادو ته په کتو سره (که چېرې موجود و)، دوی کولای شي د عمر د تثبیتولو له هر ډول اړونده سند پرته معلومه کړي چې ستاسو عمر تر 18 کلونو ټیټ دی. له هغې وروسته پولیس د ماشومانو د ټولنیز خوندیتوب اړونده هغې اداري ته خبر ورکوي چې د ماشومانو او کورنیو په مرکز کې ستاسو تر ځای پرځای کېدو پورې به ستاسو د پالنې مسؤلیت په غاړه لري. ستاسو د عمر د تثبیت اړونده سند او پدې برخه کې د شک په صورت کې به تاسو اړ واست ترڅو په روغتون کې طبي آزموینې (لکه اکسرې او د بدن معاینات) ترسره کړئ.

# زه به چېرې اوسم؟

تاسو ته به د ماشومانو او کورنیو په مرکز کې ځای درکړل شي. د دغه مرکز کارکوونکي به ستاسو پالنه او ساتنه کوي. هغوی به تاسو لپاره د اوسېدلو ځای، خواړه، اړینې جامې او د تشناب وسائل چمتو کوي. تاسو حق لرئ چې ټول یاد موارد ترلاسه کړئ. همدارنګه تاسو د نغدو پیسو پاکټ ترلاسه کړئ ترڅو د خپلې خوښې سره سم یې مصرف کړئ. همدارنګه تاسو کولای شئ په هغه صورت کې د خپلې کورنۍ سره په اړیکه کې شئ چې دغه اړیکه تاسو د ډېر ګواښ سره نه مخ کوي.



Hello, welcome
to Slovakia



# خپل حقوق و پیژنئ

## زه چیرې یم؟

سلام! تاسو د سلواکیا په جمهوریت (Slovakia) کې چې د اروپا په مرکز کې موقعیت لري قرار لرئ. سلواکیا د اروپايي ټولنې (EU) یو غړی هیواد دی. د دغه هیواد پلازمینه د Bratislava ښار او رسمي ژبه يې سلواکيايي ده. په سلواک کې یو شخص تر هغې پورې ماشوم ګڼل کېږي ترڅو عمر يې 18 کلونو ته نه وي رسېدلی. تاسو د یوه ماشوم په حیث دا حق لرئ چې مصؤنیت ولرئ او سیمه ئیز چارواکي د قانون له مخې اړ دي چې ستاسو پالنه وکړي. مهرباني وکړئ د خپلو حقونو، مسؤلیتونو او قانوني انتخابونو په اړه معلومات ولولئ.

# نور به کوم کسان زما پالنه کوي؟

په مرکز کې به تاسو د ګڼ شمېر هغو خلکو سره وينئ چې ستاسو پالنه کوي. ستاسو پالونکي به هره ورځ ستاسو پالنه، پخلی او د وزګارتيا پرمهال به تاسو سره وخت تېروي، خو هغوی کولای شي تاسو ته ځينې دندې (لکه د خپل اتاق پاکول، د لوښو مينځل او داسې نور) وسپاري. ټولنيز کارکوونکی به ستاسو د فزيکي روغتيا - ستاسو د هر ډول سلامتيا پالنه او ساتنه کوي. همدارنګه تاسو ته به د IOM لخوا يو وکيل ګومارل کېږي چې هغه به مرکز ته ستاسو له رارسېدو وروسته ستاسو ټول حقوق او قانوني انتخابونه په تفصيل سره بيانوي.
آيا زه کولای شم په آزادانه ډول د مرکز له ودانۍ د باندې ووزم؟
له هغه ځايه چې مرکز ستاسو د پالنې او مصؤنيت مسؤل دی، نو تاسو کولای شئ يوازې په هغه صورت کې له ودانۍ څخه د باندې ووزئ چې د ټولنيز کارکوونکي، لاربشود، يا پالونکي موافقه ولرئ. هغوی به په ټولو سره پدې غور کوي چې آيا هغه ځای چې تاسو غواړئ ورشئ ستاسو لپاره مناسب دی که څنګه.

# آيا زه کولای شم په سلواکيا کې خپل ديني وجائب ترسر کړم؟

يقينا، تاسو کولای شئ! تاسو دا حق لرئ چې نورو ته په درناوي سره خپل کلتور، عادتونه يا ورځنۍ چارې، او ديني آزادي ولرئ. همدارنګه تاسو دا حق لرئ چې په فردي او عامه ډول ديني آزادي ولرئ. په مرکز کې د اوسېدو شرائط داسې دي چې کولای شئ ديني آزادي (لکه، اسلامي خدمات – مناسب خواړه، ستاسو رخصتيو او دودونو ته درناوی او داسې نور) ولرئ، نو تاسو بايد پدې اړه اندېښنه و نه کړئ. که چېرې تاسو کومه غوښتنه يا پوښتنه لرئ، نو له وېرې او اندېښنې پرته يې د خپل پالونکي سره شريکه کړئ.



## ولې زما عمر مهم دی؟

دا ځکه چې تاسو له خپل پلرني هېواد څخه لرې یو بې پلاره او بې موره ماشوم یاست، په ځینو مواردو کې ستاسو حقوق د بهرنیو ځوانانو په پرتله متفاوت دي. هغوی ستاسو د لاندې اضافي خوندیتوبونو تضمین کوي:

- تاسو لپاره به ستاسو د حقونو د ساتنې په موخه یو پالونکی ټاکل کیږي.
- پولیس تر هغه نشي کولای تاسې له سلواکیا څخه وباسي ترڅو 18 کلن یاست، مګر دا چې پخپله وغواړئ. همدارنګه څوک نه شي کولای تاسو په زندان (لکه د پولیسو لخوا سمالېدونکي د پالنې په مرکز) کې واچوي.
- تاسو ته به پداسې یوه مرکز کې ځای درکړل شي چې تر 18 کلنۍ پورې او په ځینې مواردو که به تر هغې د ډېرې مودې لپاره هلته اوسئ.

## پالونکی څوک دی؟

پالونکی هغه شخص دی چې ستاسو د پالنې په جریان کې به ستاسو قانوني مسؤل وي او په نورو استازولیو لکه بهرنیو پولیسو یا محکمه کې به ستاسو استازیتوب کوي او دا ډاډ به ترلاسه کوي چې تاسو کولای شئ د غوښتنې ورغوره امتیازات ترلاسه کړئ. تاسو دا حق لرئ چې د اړتیا په صورت کې هر وخت هغه/هغې ته مراجعه وکړئ، په مرکز کې موجود پالونکي یا ټولنیز کارکوونکي به تاسو هغوی سره په اړیکه کې کړي. تاسو دا حق لرئ چې په خپلواک ډول پرېکړې وکړئ او په وړیا ډول د هر هغه وضعیت او اقدام په اړه اړیکه ونیسئ چې تاسو یې په اړه اندېښنه لرئ. که څه هم ټولې اړینې مرحلې باید ستاسو د پالونکي لخوا ترسره شي. له هغه/هغې پرته هېڅ ډول اسنادو باندې لاسلیک مه کوئ. هېڅکله پدې اړه چې تاسو نه شئ کولای په سلواکیایي ژبه خبرې وکړئ اندېښنه مه کوئ، تاسو سره به خپل پالونکي سره د اړیکو پرمهال یو ترجمان چې ستاسو په ژبه خبرې کوي مرسته وکړي.



# ستاسو مسؤليتونه

## زه بايد کومې موخې تعقيب کړم؟

**د حقونو سره هم مهاله مسؤليتونه رامنځ ته کېږي. مهرباني وکړئ لاندې اساسي قواعد په پام کې ونيسئ:**

- د مرکز داخلي قوانينو، نورو ماشومانو او هغه کسانو ته درناوی ولرئ چې ستاسو پالنه کوي.
- نورو خلکو يا د ودانۍ تجهيزاتو ته زيان مه رسوئ، په مرکز کې د مثبتې او دوستانه فضا په رامنځ ته کولو کې برخه واخلئ.
- خپلو پالونکو سره د چاپېريال په پاک ساتنه کې مرسته وکړئ او ځان منظم وساتئ.
- زغم لرونکي واوسئ او په مرکز کې خپل د سلواکيايي ژبې او نورو شيانو په زده کړه کې صرف کړئ.

## که چېرې د یو چا لخوا خورېږم یا ګواښول کېږم، نو څه باید وکړم؟

دا ستاسو حق دی چې له فزیکي او رواني تاوتریخوالي څخه مصؤن وساتل شئ. که چېرې داسې یوه پېښه رامنځ ته کېږي، نو له وېرې پرته دغه موضوع د یوه مشر شخص سره چې باور وربانديې لرئ شریکه کړئ. همدارنګه که چېرې تاسو اروپا ته د سفر پرمهال په خپل کور کې د دا ډول یوې پېښې سره مخ کېږئ، نو په اړه يې خپل هغه پالونکي ته چې کولای شي تاسو سره مرسته وکړي خبر ورکړئ.

## آیا زه کولای شم د ناروغۍ پرمهال ډاکټر ته مراجعه وکړم؟

دغه مرکز به تاسو ته د اړتیا وړ روغتیايي پالنه چمتو کوي. مرکز ته ستاسو له رسېدو وروسته، به تاسو د یوه ډاکټر لخوا معاینه شئ ترڅو وټاکل شي چې آیا له ناروغۍ څخه رنځېږئ او دا چې آیا تاسو اړتیا لرئ چې تر یو ډول درملنې لاندې ونیول شئ. تر هغې چې پایلې مو راغلې نه وي، تاسو به په لنډمهاله ډول د مرکز د هرکلي په څانګه کې چېرې چې نه شئ کولای په آزاد ډول راشه درشه وکړئ او د نورو ماشومانو سره په اړیکه کې شئ، استوګنه وکړئ. کله چې معاینات دا ښئي چې تاسو روغ یاست، نو تاسو به په هغه استوګنیزه برخه کې استوګنه کوئ چېرې چې کولای شئ د نورو سره هم په اړیکه کې شئ. د هر ډول روغتیايي ستونزې په صورت کې، د خپل ټولنیز کارکوونکي یا پالونکو سره چې کولای شي ډاکټر ته د مراجعې په برخه کې مرسته وکړي په اړیکه کې شئ.

## آیا زه اړتیا لرم چې په سلواکیايي ژبه خبرې وکړم؟

تاسو حق لرئ په هغه ژبه خبرې وکړئ چې وربانديې پوهېږئ، او همدارنګه تاسو حق لرئ چې ترجمان ولرئ. خو دا هم ښه خبره ده چې هر وخت په بله ژبه وپوهېږئ. د سلواکیايي ژبې زده کړه کولای شي تاسو سره په مرکز کې د پالونکو سره د اړیکو، ملګرو سره د لیدو، په ښوونځي کې د نویو شیانو د زده کړې او سلواکیا کې د کار پیدا کولو په برخه کې مرسته وکړي. له هغه ځایه چې تاسو د آزادۍ او ښېرې زده کړې حق لرئ، نو تاسو ته به په مرکز کې د سلواکیايي ژبې د زده کړې ټولګي چمتو شي. د سلواکیا هیواد لخوا د ښو سپارښتنو په صورت کې به همدارنګه تاسو د سیمې د ماشومانو سره په ګډه د دغه هیواد په ښوونځیو کې حضور ولرئ.

# په سلواکیا کې د زغم استوګنه څه ته وایي؟




د یوه داسې ماشوم په حیث چې مشران خپلوان و نه لري، تاسو دا حق لرئ چې د زغمي اوسېدنې تضمین مو وشي، نو له همدې کبله تاسو کولای شئ په سلواکیا کې په قانوني ډول پاتې شئ. پالونکي به له تاسو څخه ګڼ شمېر پوښتنې وکړي، لکه د کور د آدرس او هغو والدینو د نومونو په اړه پوښتنې چې کولای شي په سمه توګه فورم ډک کړي. هغوی او د مرکز ټولنیز کارکوونکی به تاسو بهرنیو پولیسو ته تسلیم کړي. که چېرې ستاسو عمر 14 کاله یا تر دې هم ډېر وي، نو پولیس به ستاسو له مخ څخه یو تصویر واخلي، ستاسو د ګوتې نښه به واخلي او له تاسو به غوښتنه وکړي چې غوښتنلیک لاسلیک کړئ. اندېښنه مه کوئ، دا یو معیاري کړنلارهدی چې له مخې یې معلومات محرم ساتل کېږي. دا د پنا اخیستنې لپاره یو غوښتنلیک نه دی. د زغم استوګنه د 180 ورځو لپاره تضمین شوې ده، خو کیدای شي چې په مکرر ډول تر هغه پورې تمدید شي ترڅو چې تاسو 18 کلن کیږئ.

# نړیوال مصؤنیت څه ته وایي؟

دوه ډوله نړیوال مصؤنیت شتون لري چې سلواکیا کولای شي له مخې یې تاسو تضمین کړي: چې عبارت دي له پناغوښتنې او کومکي مصؤنیت څخه. پناغوښتنه د نړیوال مصؤنیت ترټولو ښه ډول دی. که چېرې دا وبره درسره وي چې د نژاد، تابعیت، دین، سیاسي مفکورې یا په ځانګړیو ډلو کې د غړیتوب له امله به تر عدلي څار لاندې ونیول شئ او له دې امله به و نه شئ کولای خپل هیواد ته ستانه شئ، نو دا تضمین نه شي کیدی. ربړونې او ځورونې پدې مانا دی چې تاسو دا وبره لرئ چې ښائي د فزیکي یا رواني تاوتریخوالي، جنسي تاوتریخوالي، تبعیض، بې عدالتۍ یا د تبعیض پر بنسټ عدلي تعقیب، سزاګانو، د ماشومانو پروړاندې د



# قانوني حالت/موقف

## زما قانوني انتخابونه څه دي؟

تاسو لپاره د خپل وضعیت د بهبود په موخه د وضعیت پایښت ته په کتو سره څلور مختلف انتخابونه شتون لري:

- په مرکز کې د اوسېدو د اجازه پاڼې له مخې تر 18 کلنۍ پورې د اوسېدو د زغملو انتخاب;
- په سلواکیا کې د نړیوال مصؤنیت (پناغوښتنې یا کوپون) لپاره د غوښتنې انتخاب;
- خپل پلرني هېواد ته په خپله خوښه بېرته د ستنېدو انتخاب;
- د کورنۍ د هغه غړیو سره د یو ځای کېدو انتخاب چې په قانوني ډول په کوم بل هېواد کې اوسي.



# څنګه کولای شم په بل هیواد کې د خپلې کورنۍ سره یوځای شم؟

که چېرې تاسو ته دا معلومه وي چې والدین یا نور خپلوان مو په اروپايي یا نورو هغو هېوادونو کې ژوند کوي چې ستاسو خپل هېواد سره توپیر لري او تاسو غواړئ هغوی سره و اوسئ، نو پدې اړه د خپل پالونکي سره مشوره وکړئ. له هغې وروسته به پالونکي دا اړتیا ولري چې پوه شي آیا ستاسو خپلوان په یادو هېوادونو کې په قانوني ډول اوسېږي که نه، دا چې تاسو هغوی سره څه قرابت لرئ، او دا چې آیا ستاسو خپلوان غواړي او کولای شي ستاسو پالنه وکړي. که چېرې ځواب هو وي، نو پالونکی به په بل هیواد کې ستاسو خپلوان ته د ورتګ لپاره ترټولو غوره لاره چاره سنجوي.



# څه وخت باید د اقداماتو د ترسره کولو پریکړه وکړم؟

تاسو ته به مرکز ته د رسېدو سره سم په ممکنه ژر فرصت کې د خپلو حقوقو او قانوني انتخابونو په اړه پوهاوی درکړل شي. دا په بشپړ ډول ستونزه نلري چې تاسو د پرېکړو او کورنۍ سره د خبرو او مشورو لپاره ډېر وخت ته اړتیا ولرئ. د IOM وکیل به تاسو ته ستاسو ټول انتخابونه په تفصیل سره تشریح کړي او قانوني مشورې ته د اړتیا په صورت کې به ستاسو لپاره په دغه مرکز کې د اوسېدو پرمهال دغه موارد تاسو ته د لاسرسي وړ وي.

محکمې پړاوونه سره مخ شئ. که چېرې ستاسو پناغوښتنې نه منل کېږي او تاسو په خپل هېواد کې د جدي ګواښ (لکه مرګ، زوروني یا په خپل هېواد کې د جګړو پرمهال د مرګ ګواښ) سره مخ یاست، تاسو ته به نړیواله مصونیت درکول شي. د نړیوال مصؤنیت دواړه ډولونه تاسو ته ضمینه برابروي ترڅو په سلواکیا کې په قانوني ډول ژوند زده کړه او استوګنه وکړئ.

# د پناغوښتنې کړنلارهڅنګه یو کړنلارهدی؟



که چېرې غواړئ د پنااخیستنې لپاره غوښتنه وکړئ، نو د خپل پالونکي سره خبره وکړئ په مرکز کې د خپل تولنیز کارکوونکي سره په اړیکه کې شئ. ستاسو پالونکي او له IOM اداري څخه ستاسو وکیل به تاسو ته طرزالعملونه په بشپړ ډول تشریح او ستاسو ټولو پوښتنو ته به ځوابونه وړاندې کړي.

# خپل هېواد ته د ستنېدو په صورت کې څوک کولای شي ماسره مرسته وکړي؟



که چېرې تاسو غواړئ بېرته خپل هېواد کې مېشتې کورنۍ ته ستانه شئ، نو پدې اړه خپل پالونکي ته چې کولای شي تاسو سره پدې برخه کې مرسته وکړي خبر ورکړئ. که چېرې تاسو ته هغوی ته خبر ورکړئ، نو هغوی به د IOM سره په اړیکه کې شي ترڅو تا سره کور ته د ستنېدو په برخه کې مرسته وکړي. هغوی کولای شئ تاسو د سفر د اسنادو، سفري ټیکټونو، هوایي ډګر ته په رسولو او بدرګه کولو او له هغه ځایه تر کوره پورې په رسولو سره مرسته وکړي. پدې صورت کې هر څه وړیا دي خو ستاسو موافقه حتمي ده.

# زموږ په اړه

په سلواکیا کې د کډوالۍ نړیواله اداره (IOM) کولای شي تاسو لپاره وړیا مشوره چمتو کړي. که چېرې تاسو نورې پوښتنې لرئ، مهرباني وکړئ **0850 211 478** شمېرې ته زنګ ووهئ یا **mic@iom.int** ته ایمیل واستوئ.

This project is co-financed by European Union from Asylum, Migration and Integration Fund (AMIF). Home Affairs Funds.

This activity was carried out with funding from a grant from the Migrant and Refugee Fund received through the Council of Europe Development Bank.